# بین الافغاني خبرې اترې او د سولې راتلونکی

## د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز - کابل

**تحليل** CSRS | **شماره:** ۳۵۴

16 سنبله ۱۳۹۹ هـ ش / 06 Sep 2020


ويبسايت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.af


لطفا نظریات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به آدرس های ذیل با ما شریک سازید.


ایمیل: csrskabul@gmail.com - info@csrskabul.com


---


لومړی تحلیل

دویم تحلیل

# بین الافغاني خبرې اترې او د سولې راتلونکی



د امریکا او طالبانو ترمنځ د شوې هوکړې له مخې ټاکل شوې وه چې د روان کال مارچ میاشتې په لسمه نېټه بین الافغاني خبرې اترې پیل شي. مګر د دواړو لورو لخوا د ټاکل شوي شمېر بندیانو د نه خوشې کېدلو له امله چې د بین الافغاني خبرو اترو پر وړاندې بنسټیز شرط او خنډ وو یادې خبرې اترې تر ډېره وځنډولې.

افغان دولت د سپتمبر میاشتې په دویمه نېټه اعلان وکړ چې د طالبانو پاتې بندیان یې له خپلو زندانونو آزاد کړي او یوازې اووه تنه بندیان چې د فرانسې او استرالیا حکومتونو پرې ځینې ملاحظې لرلې چې ګواکې هغوی د یادو هېوادونو د عسکرو په وژلو تورن پېژندل شوي بنایي قطر هېواد ته هم ولېږدول شي. دوحه کې د بین الافغاني خبرو اترو پیل کېدو، او هغو موارد و په اړه مو د CSRS په دې تحلیل کې شننه کړې چې د بین الافغاني مذاکراتو په ترڅ کې به تر بحث لاندې نیول کېږي.

## زندانیان او پوځي اډې

په دوحه کې د فبروري په ۲۹ لاسلیک شوې هوکړې له مخې باید بین الافغاني مذاکرات په خپل وخت پیل شوای وای.[1] دا چې د زندانیانو موضوع چې د بین الافغاني خبرو اترو پر وړاندې یو بنسټیز خنډ ګڼل کېده د دواړو لورو لخوا د یاد خنډ له منځه تلل د افغان سولې په برخه کې یو ښه پرمختګ دی چې د سیمې هېوادونو په ګډون برتانیایې، جرمني او امریکا ورځنې ښه هرکلی کړی دی.[2] د افغان سولې

[1] https://www.state.gov/wp-content/uploads/2020/02/Agreement-For-Bringing-Peace-to-Afghanistan-02.29.20.pdf
[2] https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-53718524

Center for Strategic and Regional Studies

په برخه کې د امریکا ځانګړي استازي ښاغلي زلمي خلیلزاد د زندانیانو خوشې کولو په تړاو ویلي چې افغانان تر بل هر وخت د سولې طلایي فرصت سره مخ شوي او باید ګټه ترې پورته کړي. د افغان حکومت له لوري د روغې جوړې شورا مشر ډاکتر عبدالله عبدالله د ټولو زندانیانو د زر خوشې کېدلو په تړاو څرګندونې او همدارنګه د حکومت او طالبانو له لوري د بین الافغاني مذاکراتو د زر ترزره پیل کېدو په تړاو څرګندونې ښیي چې ریښتیا هم افغانان تر بل هر وخت د سولې لپاره یو ښه فرصت ترلاسه کړی او باید دا فرصت غنیمت وګڼل شي ترڅو تل پاتې سولې ته د رسېدو لاره هواره کړي.
د دوحې تړون له مخې امریکا ژمنه کړې چې په راتلونکو ۱۴ میاشتو کې به په افغانستان کې د پېنځو اډو څخه خپل ټول فوځیان وباسي. که څه هم د هوکړې وروسته یو شمېر امریکایي فوځیان له افغانستان څخه وتلي هم دي. ، د سپټمبر په دریمه نېټه د امریکا دفاع وزیر څرګنده کړه چې په نږدې راتلونکې کې به خپل نور درې زره فوځیان هم له افغانستان څخه وباسي. که د امریکا له لوري د فوځیانو وتلو لړۍ په همدې شکل دوام پیدا کړي او تر ټاکل شوې مودې یاد هېواد خپل فوځیان له افغانستان څخه وباسي نو د افغان شخړې پای ته رسېدو په برخه کې به تر ټولو لوی پرمختګ ترلاسه شوی وي. که څه هم د امریکا ولسمشر د فوځیانو ویستلو په اړه شین څراغ ښودلی او ویلي یې دي چې په امریکا کې د ټاکنو وړاندې به په افغانستان کې د خپلو فوځیانو شمېر د 5 زرو نه تر 4500 پورې راکم کړي.**3** خو د امریکا دفاع وزارت (پنټاګان) ښایي په دې اړه متفاوت نظر ولري او په دې اړه څرګندونې د وخت مخکې کاربولي.**4**

## اوربند او بین الافغاني مذاکرات

د شوې هوکړې له مخې طالبانو ژمنه کړې چې د بین الافغاني مذاکراتو په لړ کې به د اوربند په هکله له افغان لوري سره خبرې اترې ترسره کوي. په داسې حال کې چې د دواړو لورو لخوا تقریباً ټول زندانیان خوشې شوي، خو لا هم د هېواد په کچه جګړو زور اخیستی او دواړو خواوو ته پکې درانه ځاني تلفات اوړي.
د زندانیانو د وروستۍ جوپې تر خوشې کېدو یوه ورځ وروسته په ننګرهار، بغلان، سرپل او یو شمېر نورو سیمو کې د دواړو لورو تر څنګ ملکي وګړو ته تلفات رسېدلي دي. د یو منظم میکانیزم له لارې د اوربند پلي کېدل کولی شي د سولې په برخه کې د سبوتاژ کوونکو ډلو مخه تر ډېره ډب کړای شي. که چېرته اوربند پلي نه شي ښایي هغه داخلي او بهرنۍ کړۍ چې نه غواړي د هغوی ګټې د افغان سولې راتګ سره له منځه ولاړې شي د سولې پر وړاندې خنډونه ایجاد کړي. د بېلګې په توګه هغوی ښایي په ښارونو کې د تاوتریخوالي پېښې ډېرې شي او یا هم د ټولنې مطرح سیاسي څېرې په نښه او له منځه

[3] https://www.defenseone.com/policy/2020/08/trump-us-withdraw-4k-troops-afghanistan-election/167456/
[4]https://www.militarytimes.com/news/your-military/2020/08/06/pentagon-not-confirming-any-plans-to-halve-us-troops-in-afghanistan-by-the-election/

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

یو رل شي چې د ې کار سره د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د باور فضاء له منځه تللی شي. نو ځکه د باور فضاء ساتلو لپاره اوربند یو حتمي او بنسټیز شرط په توګه باید وټاکل شي ترڅو د نورو خنډونو پیدا کولو مخه ونیول شي.

## د مذاکراتي پلاوو پېژندنه او پرتله

د بین الافغاني مذاکراتو لپاره د افغان حکومت له لوري شل کسیز هیئت ټاکل شوی دی، چې د علماوو، سیاسي احزابو، ځوانانو، ښځو او مدني ټولنې غړو ته پکې ځای ورکړل شوی دی. په دې پلاوي کې ځینې داسې کسان هم ګډون لري چې د سولې او لویو ملي قضایاوو په برخه کې ښایي کافي تجربه و نه لري. خو بیا هم افغان حکومت تمه ښیي چې دا پلاوی به وکولی شي د ولس غوښتنو ته په پام د سولې په برخه کې ښې لاسته راوړنې ولري. ځکه د دې پلاوي مشري د ښاغلي معصوم ستانکزي پر غاړه ده هغه څوک چې په تېرو څو کلونو کې یې په لوړو حکومتي څوکیو کار ترسره کړی او کافي تجربې خاوند هم دی. که څه د حکومت له لوري په مذاکراتي پلاوي کې د سیاسي احزابو انډول ته هم تریوې اندازې پاملرنه شوېده، خو بیا هم د حزب اسلامي په ګډون یو شمېر سیاسي ګوندونه څرګندوي چې هغوی به له طالبانو سره په مخامخ خبرو اترو کې هم ګډون ترسره کړي، چې دا کار بیا نه یوازې د پلاوي شتون او واک تر پوښتنې لاندې راولي، بلکې په کور دننه د سولې په اړه د پراګنده او تیتو نظرونو ښکارندويي هم کوي. د دې لپاره چې په کور دننه د سولې په اړه واحد نظر پیدا شي، اړینه ده ترڅو افغان حکومت د ټولو مطرحو سیاسي څېرو، د قومونو استازو او علمي شخصیتونو سره د سولې په برخه کې له نږدې کار ترسره کړي او د هغوی ملاتړ خپل کړي.

د ښاغلي معصوم ستانکزي په مشرۍ د افغان حکومت پلاوي غړي عبارت دي له: ذکیه وردګ، شهلا فرید، محمد ناطقي، نادر نادري، عبدالمتین بیګ، باتور دوستم،خالد نور، شریفه زرمتۍ، رسول طالب، ایوب انصاري، کلیم الله نقیبي، امین احمدي، عبدالهادي ارغندیوال، حبیبه سرابي، عنایت الله بلیغ، حفیظ منصور، زینب مؤحد، ضرار احمد مقبل او غیرت بهیر

بلخوا د طالبانو شل کسیز مذاکراتي پلاوی چې تر ډېره پکې د طالبانو د تحریک لوړپوړي چارواکي ځای لري. د طالبانو په مذاکراتي پلاوي کې د هغوی د شورا ۱۳ تنه غړي هم ځای لري او دا بیا د دې څرګندويي کولی شي چې یاد مذاکراتي پلاوی تر ډېره د واک خاوند هم دی.

د ښاغلي شېر محمد عباس ستانکزي په مشرۍ د طالب پلاوي غړي عبارت دي له: شیخ عبدالحکیم، مولوي عبدالکبیر، مولوي نور محمد ثاقب، ملا محمد ذاهد احمدزی، ملا شیرین اخوند، ملا عبدالطیف منصور، قاري دین محمد، ملا عبدالسلام حنفي، ملا عبدالمنان عمري، شیخ محمد قاسم ترکمن، ملا محمد فاضل مظلوم، ملا نورالله نوري، ملا عبدالحق وثیق، مولوي مطیع الحق خالص،

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS) Kabul

محمد سهیل شاهین، ملا محمد نبي عمري، انس حقاني، خیرالله خیرخوا، مولوي شهاب الدین دلاور، ملا فرید

## د بین الافغانی مذاکراتو لپاره لومړیتوبونه

مؤقت حکومت، د نظام شکل، ولسي جرګه او ښه یې، مشرانو جرګه او ښه یې، ولایتي او ولسوالیو شوراګانې، د ښاروالیو ټاکنې، د عامې روغتیا، پوهنې او لوړو زده کړو په ګډون بیا رغونه، دولتي ادارو کې د ښځینه وو کار، بیان آزادي، د دیني علماوو علمي رتبې تثبیت او معادله، د اوبو مهارول، برق، ګاز، سوداګري، وده او یو شمېر نور هغه موارد دي که د بین الافغاني مذاکراتو کې په ترڅ کې تر بحث لاندې و نیول شي ښایي زیات وخت ونیسي. پر همدې بنسټ د واړه خواوې باید هڅه وکوي هغه موارد د بېلګې په توګه مخدره مواد، سرتاسري امنیت، په نظام کې ملي مشارکت، اداري فساد، شفافیت او حساب ورکونه چې افغان ولس په اغېزناکه توکه زر تر زره د سولې سره یو ځای کولی شي تر بحث لاندې ونیسي. ځکه دا هغه موارد دي چې د افغانستان امنیت، ټولنیز ثبات او اقتصادي پرمختګ ګواښي او له دې پرته نړیواله ټولنه هم په دې برخه کې افغان چارواکي هڅوي ترڅو په دې اړه لازم ګامونه پورته کړي. خو د دې وړاندې د سرتاسري اوربند پلي کېدل کولی شي د یادو موارد و پر وړاندې لوی خنډ له منځه یوسي. که چېرته اوربند دوام پیدا نه کړي ښایي د سولې اوسنی فرصت د افغانانو له لاسه ووځي.

او اړینه ده ترڅو د سیمې هېوادونه د افغانستان د ښو ګاونډیانو په توګه د سولې دې تاریخي فرصت په برخه کې د افغان ولس ترڅنګ ودرېږي. ځکه په افغانستان کې تل پاتې سوله نه یوازې د افغانستان بلکې د سیمې د اقتصادي پرمختګ او سوکالۍ لامل هم ګرځېدلی شي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS-Kabul)

# سیلاب های اخیر در کشور؛ هنوز کار های زیادی باقیست



هفته گذشته چهارده ولایت افغانستان شاهد سرازیر شدن سیلاب های شدید موسمی بود. این سیلاب ها زیان های جانی و مالی را نیز به همراه داشته است که از آن جمله شهر چاریکار مرکز ولایت پروان بیشترین آسیب را دیده است.5 پس از پروان؛ ولایت های کاپیسا، کابل، میدان وردک، پنجشیر، لوگر، پکتیا، پکتیکا، ننگرهار، خوست، نورستان، بامیان، لغمان و غزنی ولایاتی اند که با درجات مختلف به نحوی از اثر جاری شدن سیلاب ها خساره مند گردیده اند.6

هر چند افغانستان از جمله کشورهایی است که همه ساله از اثر جاری شدن سیلاب ها و حوادث طبیعی دیگر به شکل از اشکال متضرر می گردد. اما، این بار سیلاب ها فاجعه ی را به همراه داشته است که طی یک دههء اخیر کم سابقه بوده است. در این تحلیل در پی آنیم تا موضوع جاری شدن سیلاب های اخیر در کشور را مورد بررسی همه جانبه قرار دهیم.

Center for Strategic and Regional

[5] *https://tolo**news**.com/fa*

[6] https://da.azadiradio.com/

## زیان های وارده

روز سه شنبه ۱۱ سنبله سال ۱۳۹۹ هـ ش غلام بهاء الدین جیلانی وزیر دولت در امور حوادث کشور در طی کنفرانس مطبوعاتی اظهار داشت: «سیلاب ها در ولایت های پروان، کاپیسا، پنجشیر، میدان وردک، لوگر، کابل، ننگرهار، پکتیا، خوست، نورستان، کنر، لغمان، بامیان و غزنی جاری شد که در اثر آن به تعداد ۱۹۰ تن شهید شدند که هنوز هم آمار در حالت تغییر است، ۱۷۲ تن زخمی و به تعداد ۱۰۵۵ باب منزل مسکونی کاملاً تخریب شده و همچنین به تعداد ۲۹۶۰ منزل مسکونی به صورت قسمی تخریب گردیده اند.»[7].

از بین رفتن ده هزار مواشی، هزاران هکتار زمین زراعتی و باغ ها، صدها دوکان و تعدادی از موترها از اضرار دیگری اند که به آسیب رسیده گان سیلاب ها در چهارده ولایت کشور رسیده است.

از میان چهارده ولایت آسیب دیده از سیلاب، شهر چاریکار مرکز ولایت پروان به عنوان کانون حوادث طبیعی اخیر، بیشترین ضرر را متحمل گردیده است. با استناد به گفته ی غلام بهاءالدین جیلانی وزیر دولت در امور حوادث افغانستان، تلفات حادثه در پروان ۱۲۱ نفر کشته، ۱۳۶ نفر زخمی و ۱۵ نفر ناپدید می باشد. که از این میان بیشترین کشته شده گان و مجروحان را زنان و کودکان تشکیل می دهد. به گفته جیلانی هنوز عملیات نجات جریان دارد و احتمال اینکه آمار قربانیان بالا برود دور از تصور نیست.[8] تخریب ۵۰۰ منزل مسکونی، از بین رفتن صدها دوکان، ویرانی صدها هکتار زمین زراعتی و باغ ها، و تخریب تعدادی از وسائط نقلیه و عراده جات از زیان های مالی است که به ولایت پروان رسیده است. هنوز عملیات نجات پایان نیافته و سروی دقیق از خساراتی مالی و جانی صورت نگرفته و اینکه آمارهای ارائه شده جانی و مالی تغییر کنند دور از احتمال نمی تواند باشد.[9]

علاوه بر این کانال (نهر) چاریکار نیز متضرر گردیده است. شماری زیادی از مردم ولایت پروان از کانال مذکور برای آبیاری زمین های زراعتی و باغ های شان استفاده می نمایند، و نیز این کانال در تغذیه آب های زیرزمینی در مناطق ذکر شده، از اهمیت به سزایی برخوردار می باشد.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

[7] https://da.azadiradio.com/
[8] https://www.darivoa.com/
[9] *https://**ariananews**.co/*

پس از پروان؛ به اساس ترتیب عددی کاپیسا، کابل، ننگرهار، میدان وردگ، پنجشیر و پکتیا با داشتن ۲۰، ۱۰، ۸، ۸، ۳ و ۱ قربانی، در رده های دوم تا هفتم ولایات آسیب دیده قرار دارند.[10] هر چند زیان های مالی وارده بر این ولایت ها مشخص نیست، اما، احتمال اینکه صدها میلیون افغانی ضرر مالی به این ولایت ها رسیده باشد، دور از تصور نیست.

## همکاری ها با آسیب دیده گان

به دنبال واقع شدن فاجعه سیلاب ها در چهارده ولایت افغانستان از جمله ولایت پروان، شخصیت ها و نهاد های دولتی، نهاد های بین المللی، موسسات خیریه، افراد با احساس و نیروهای حمایت قاطع دست مساعدت را بسوی ولایت های آسیب رسیده به خصوص ولایت پروان دراز کردند.

تمیم عظیمی سخنگوی وزارت دولت در امور حوادث افغانستان از رسیدن مواد غذایی به چهارده ولایت کشور خبر داده و گفته است که به چهار هزار خانواده آسیب دیده مواد غذایی توزیع شده است. وی اضافه نموده است که روند توزیع مساعدت های دولتی جریان داشته و طی این روند به خانواده های قربانیان مبلغ ۵۰۰۰۰ افغانی و برای هر زخمی مبلغ ۲۵۰۰۰ افغانی کمک نقدی توزیع می شود، که تا به حال ۱۰٦ تن در ولایت پروان این کمک نقدی را دریافت کرده اند.[11]

اردوی ملی افغانستان نیز در عرصه های مختلف از جمله در عرصه کشیدن اجساد گیرمانده گان از زیر آوارها مصروف مدد رسانی به آسیب دیده گان بوده است.

در همین حال شماری از ادارات بین المللی، از جمله آژانس توسعه بین المللی امریکا، یونسف یا اداره حمایت از کودکان سازمان ملل متحد، سازمان غذایی ملل متحد، جمعیت هلال احمر ایران و سازمان ناتو از آغاز کمک های شان به آسیب رسیده گان سیلاب های اخیر در کشور خبر داده است.[12] شماری از شخصیت های سیاسی و غیر سیاسی، نهادهای خیریه، شرکت های تجارتی و نهاد های مدنی نیز دست مساعدت را بسوی سیلاب زده گان در چهارده ولایت کشور دراز نموده اند. در این میان نهاد خیریه احساس و انجمن طبی اسلامی افغانستان (ایما) توسط رضاکاران خویش بسوی سیلاب زده ها در ولایت

[10] https://da.azadiradio.com/

[11] *https://www.bbc.com/persian/***afghanistan**
[12] *https://www.bbc.com/persian/***afghanistan**

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

های مختلف از جمله پروان و میدان وردگ شتافته و برای ۱۱۰ خانواده در ولایت پروان کمک نقدی توزیع نموده است.[13] و نیز تیم رضاکار صحی (ایما)، زمینه ارائه خدمات صحی در ولایت پروان را مورد و بررسی قرار داده است.

## نیاز های بنیادین

شکی وجود ندارد که جاری شدن سیلاب ها در چهارده ولایت کشور، به شمار زیادی از خانواده ها آسیب جدی و در خور توجه رسانیده است. طوری که برگشت شان به زنده گی عادی (شبیه زنده گی قبل از سرازیر شدن سیلاب ها) به حجم میلیون ها دالر هزینه مالی کار دارد. اما لازم است این کمک ها به دور از دستان مفسد وبا شفافیت کامل به مصرف برسد. علاوه برین، اولویت ها در احیای مجدد مناطق سیلاب زده باید رعایت گردد.

در گام نخست جاده های عمومی، جاده های فرعی، منازل مسکونی، زمین های زراعتی، باغ ها، دکاکین، کانال های کوچک و یا بزرگ و آب رو ها به پاک کاری نیاز دارند؛ که به گفته دولت افغانستان این کار آغاز شده است و شماری از جاده های عمومی و فرعی نیز پاک کاری گردیده و به روی عبور و مرور وسایط نقلیه باز شده است. محمد اشرف غنی رئیس جمهور افغانستان به والی پروان اطمینان داده است که وزارت مالیه و اداره عملیاتی ارگ ریاست جمهوری را برای طرح بازسازی نهر چاریکار مکلف ساخته است.[14]

کار بعدی این است تا با خانواده هایی که از اثر سیلاب ها، خانه های مسکونی شان را از دست داده اند؛ حد اقل درحدی همکاری صورت گیرد که خانه های شان دوباره قابل رهایش گردد و البته این کار به بودجهء کافی و همکاری جامعهء نیاز خواهد داشت. علاوتاً توزیع زمین بخاطر اعمار خانه های رهایشی برای فامیل هایی ضروری خواهد بود که اعمار خانه در موقعیت قبلی به اثر تخریب سیلاب ها ممکن نمی باشد.

سومین گام، باز گردانیدن بیجا شده گان سیلاب های اخیر به خانه و کاشانهء شان است که طبعاً بدون همکاری نزدیک ارگان های حکومتی و همکاری های مردمی ممکن نمی باشد.

[13] https://www.facebook.com/EhsasWelfareOrganization/posts/
[14] https://paykreports.com/

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

شماری از فامیل های آسیب رسیده، همه دار و ندار زندگی شان را از دست داده اند، این فامیل ها به همکاری بیشتری نیاز دارند تا دوباره به پای خود ایستاده شوند.

## نتیجه

متأسفانه سیلاب های اخیر درحالی کشور ما را مورد حمله قرار داد که هنوز از تأثیرات سوء ویروس کرونا نجات نیافته است. در میدان مساعدت های عاجل؛ تعداد زیادی از نهادهای ملی و بین المللی، افراد و اشخاص، سیاسیون و غیر سیاسیون دست و آستین بالا زده اند که همه قابل ستایش اند. اما، کارهای اصلی در پس از نیازهای عاجل و ضروری قرار دارند، که آن عبارت از برگرداندن آسیب دیده های سیلاب به زنده گی عادی می باشد، که ملیاردها افغانی هزینه می طلبد.

هر چند این از وظیفه و مسئولیت دولت افغانستان است که آسیب رسیده ها سیلاب های پسین کشور را به زنده گی عادی بر بگرداند. اما، نهادهای ملی و بین المللی نیز مسئولیت اخلاقی دارند که با مردم افغانستان درین شرائط دشوار؛ صادقانه همکاری نمایند. کار مؤسسات خیریهء داخلی، همکاری تجار ملی و افراد با احساس را درین راستا نمی توان کم ارزش تلقی نمود. والبته کار مساجد و منابر و هم چنان برنامه های اختصاصی رسانه ها نیز بخاطر بسیج افکار عمومی و نظارت از کارکرد حکومت در رابطه همکاری با سیلاب زده گان مهم و اساسی می باشد. همچنان مؤسسات تحقیقاتی کشور نیز می توانند با آماده کردن سروی های دقیق؛ به عمق فاجعه داخل شده و طرح های ابتکاری و عملی ای را بخاطر حل بنیادی مشکل سیلاب ها در کشور، و اجرای تدابیر وقایوی بخاطر تقلیل خرابیهای ناشی از سیلاب ها و حوادث طبیعی دیگر در آینده، تهیه نموده و با مراجع تصمیم گیر شریک سازند.

---

د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز یو غیر انتفاعي، غیر حکومتي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ هش کال کې تأسیس شوی دی. مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو او رغنده خبرو له لارې په افغانستان او سیمه کې د پالیسیو ارزولو او د هغو د پراختیا لپاره فعالیت کوي. د مرکز یوه موخه دا هم ده چې د نویو څېړنو او پالیسیو تر منځ داسې ارتباط قایم شي چې په پایله کې د هېواد په کچه ټولې پالیسۍ په مطالعې ولاړو اکاډیمیکو اصولو برابرې شي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS) Kabul